
DEMAC
DIASPORA EMERGENCY ACTION & COORDINATION



# په افغانستان کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا افغانانو د ښکېلتیا هڅې
## د رېښتیني وخت بیاکتنه

دا څېړنه د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ مې او د سپټمبر د ۳۱ مې نېټې تر منځ ترسره شوې ده.

د DEMAC او Meraki لابراتوارونو د څېړنې ډلې، په افغانستان اوتوله نړۍ کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا ټولنو له غړو او همدا راز د ډنمارک د کډوالو شورا د دیاسپورا پروګرام له استازو مننه کوي، چې د معلوماتو چمتو کولو او د خپلې ارزښتمنې پوهې او تجربو په شریکولو سره یې خپل وخت وقف کړ.
دغه دریښتیني وخت بیاکتنه څېړنه د ډنمارک د بهرنیو چارو وزارت (DANIDA) او د متحده ایالاتو د پراختیایي اداري له لارې د امریکا د وګړو د سخاوتمندانه خلکو له لورې ممکن شوې دی. د دغې بیاکتنې د منځپانګې مسؤولیت، د DEMAC په استازیتوب د ډنمارک د کډوالو شورا په غاړه دی او د متحده ایالاتو د حکومت یا د متحده ایالاتو د پراختیایي اداري لیدلوري او نظرونه نه منعکسوي.

## لنډیز

**د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۶ مه نېټه، طالبانو د افغانستان د نیولو اعلان وکړ. د طالبانو له لورې د حکومت تر نیولو وروسته، د دوه لسیزې جګړې، له دغه هېواد څخه د وتلو په صورت کې د بشري اغېزو او په دغه هېواد کې د ښځو او مدني ټولنې د راتلونکي په اړه تاوده بحثونه راپورته شول.** په دغه وخت کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا افغانانو رول مهم دی؛ د رسنیو له لورې د بهرمېشتو/ دیاسپورا له تنظیمونو څخه وغوښتل شول چې د سیاسي او بشري حقونو د حالت په اړه تبصرې وکړي او په عین وخت کې د نوي سیاسي واقعیت شخصي او مسلکي اغېزې په پام کې ونیسي. په افغانستان کې د بدلېدونکي حالت په رڼا کې، DEMAC او د ډنمارک د کډوالو شورا د بهرمېشتو/ دیاسپورا پروګرام، یوه د رېښتیني وخت بیاکتنه څېړنه ترسره کړه څو پر افغانستان د طالبانو د کنټرول د ترلاسه کولو څخه سمدستي وروسته پایلو کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا ښکېلتیا معلومه کړي.
د رېښتیني وخت بیاکتنې موخې درې اړخیزې دي: ۱) ارزونه وکړي چې د بهرمېشتو/ دیاسپورا افغانانو تنظیمونه د وکالت،

USAID FROM THE AMERICAN PEOPLE
DRC DANISH REFUGEE COUNCIL
MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS OF DENMARK Danida

اتحاد جوړوني او مستقیمي ښکېلتیا په برخو کې په کومو فعالیتونو بوخت دي؛ ۲) د طالبانو تر کنترول وروسته د بهرمېشتو/ دیاسپورا افغانانو په حرکتونو کې بدلونونه او د دغو بدلونونو څرنګوالی وارزوي؛ او ۳) ریکارډ کړي چې په حرکتونو کې اړونده بدلونونه څه ډول فعالیتونه او پالیلي رامنځته کړي دي.

په اوسني سیاسي بحران کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا افغان تنظیمونو د ښکېلتیا معلومولو لپاره، د ریښتیني وخت بیاکتنه څېړنه کې د معلوماتو راټولوني لپاره له دوه طریقو کار اخیستل شوی و. لومړی، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مي نېټې څخه د سپټمبر تر ۳۱ مي نېټې پورې، د بهرمېشتو افغانانو له ۶۰ تنظیمونو، له اروپا ۲۶، له شمالي امریکا ۲۱، د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو ۹، له استرالیا ۵ او یوه نړیوال تنظیم څخه، د رسنیو انلاین څارنه ترسره شوې وه. په دې کې د ټولنیزو رسنیو د ۱۰۰ حسابونو له لارې، د بهرمېشتو/ دیاسپورا د انلاین بیانیو، غونډو او مالي ملاتړ پیدا کولو د پانو یوه ورځنۍ بیاکتني ګډون درلود. د اضافي شالید چمتو کولو لپاره، د لسو افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو له استازو او د ډنمارک د کډوالو شورا د دیاسپورا پروګرام له کارکوونکو سره، د مهمو معلومات ورکوونکو مرکې هم ترسره شوې وې.

## د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونه په کوم فعالیتونو بوخت دي؟

- د طالبانو له لورې د کابل تر نیولو وړاندې، په دغه څېړنه کې دخیلو د بهرمېشتو افغانانو ډېری تنظیمونه د یو ځای کېدنې، کلتور، وکالت، حقوقي مرستې، د بیا مېشتېدنې ملاتړ او پوهنې، چې د هغوي د اوسېدنې په هېوادونو کې پر دیاسپورا ټولنو یې تمرکز درلود، په برخو کې کار کاوه. د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونه، همدا راز په افغانستان کې د بشري مرستې او پرمختیایي ملاتړ په مختلفو برخو کې هم فعال دي.
- هغه تنظیمونه چې بیاکتنه یې ترسره شوې وه، د تاسیس د نېټو له مخې یې توپیر درلود، ځینو یې تر ۲۵ کالو زیات فعال خدمت کړی و په داسې حال کې چې ځیني نور یې د اوسني سیاسي بحران په پایله کې تاسیس شوي وو.
- په عمومي ډول، په متحده ایالاتو او کاناډا کې د بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو، د اروپایي تنظیمونو په پرتله پیاوړی انلاین شتون درلود، سره له دې چې له شمالي امریکا څخه ډېر لږ شمېر تنظیمونه په دغه راپور کې رانغاړل شوي دي. پخپلو د اوسېدنې هېوادونو کې دننه د محدودې عملیاتي فضا او سیاسي حساسیتونو په پام کې نیولو سره، د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو د فعالیتونو په اړه راپورونه نږدې هېڅ موجود نه وو.

DEMAC
DIASPORA EMERGENCY ACTION & COORDINATION

# د طالبانو تر کنترول وروسته د بهرمېشتو دیاسپورا په حرکتونو کې بدلونونه او د دغو بدلونونو ځرنګوالی څه دی؟ د وکالت، اتحاد جوړونې او مستقیمې مرستې په ګډون د دغو بدلونونو واقعي پایلې څه دي؟

د بهرمېشتو/ دیاسپورا ټول هغه تنظیمونه، چې مرکې ورسره ترسره شوې وې، د طالبانو له لورې تر کنترول ترلاسه کولو وروسته د خپل تمرکز په ساحو کې له یوه بدلون څخه تېر شوي دي. هغه تنظیمونه چې لا دمخه فعال او بنه بنسټ یې درلود، په اصلي بدلونونو کې د تمرکز نویو ساحو او یا پخپلو فعالیتونو کې د هڅو چټکتیا ګډون درلود. هغه تنظیمونه چې په افغانستان کې له تازه پېښو څخه مخکې تر ډېره غیر فعال وو، د بامفهومه همکارۍ کولو په موخه د خپلو سرچینو په حرکت راوستلو لپاره چټک ګام پورته کړ. په تمرکز او طریقه کې بدلون هم د بدلېدونکي سیاسي حالت په پایله کې د ځینو عملي او لوژیستیکي ننګونو له لورې اغېزمن شوی و.

**وکالت او د پوهاوي لوړول**

- انلاین ځارنې ونبودله چې ۴۸ سلنه تنظیمونو د وکالت او پوهاوي لوړونې د روانو کمپاینونو په اړه ډېر پوستونه کول.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو د نړۍ په مختلفو ښارونو کې مظاهرې تنظیم کړې چې ډېرې مهال یې یو واحد پیغام درلود. په دې کې د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۲۸ مه نېټه د بهرمېشتو ټولنې له لورې د نړیوال یووالي مظاهرو ګډون درلود. د بهرمېشتو افغانانو د هغو تنظیمونو تر منځ همکاري ځرګنده وه، چې تر دې مخکې یې ګډ کار نه کاوه.
- د بهرمېشتو افغانانو او د بهرمېشتو افغانانو د تنظیمونو مشهورو څېرو، په افغانستان کې د حالت په اړه ډېر نظرونه وړاندې کړل څو د هغوي د اوسېدنې په هېوادونو کې د خپلو ټولنو اندېښنې منعکسې کړې.
- سیاسي مشرانو او ملګرو ملتونو ته رسمي بیانیې او پرانیستې لیکونه واستول شول څو د افغانستان د وګړو د حقونو، بیامېشتېدنې، بشري مرستې، دیپلوماسۍ او بشري حقونو لپاره وکالت وکړي.
- په شمالي امریکا، اروپا او استرالیا کې د بهرمېشتو افغانانو تنظیمونو، د هغوي د اوسېدنې په هېوادونو له خپلو استازو او پالیسي جوړوونکو سره په مستقیم ډول د ښکېلتیا راپور ورکړ. هغوي همدا راز د #ActionForAfghanistan کمپاین د هشټاګ په څېر د انلاین کمپاین له تخنیکونو هم ګټه پورته کړې ده.
- په افغانستان کې د روان حالت د رانغاړونکو موضوعاتو او د طالبانو له لورې د کنترول ترلاسه کولو د ممکنه پایلو په اړه، د افغان او غیرافغان فعالانو او د متخصصینو په ګډون انلاین او شخصي بحثونه هم شوي وو.

**بیړنی مالي ملاتړ**

- د انلاین ښکېلتیا ۱۵ سلنه برخه د بیړني مالي ملاتړ کمپاینونه وو.
- د طالبانو له لوري د کابل تر نیولو وروسته اونیو کې، د بهرمېشتو افغانانو تنظیمونو د مالي ملاتړ ترلاسه کولو پر فعالیتونو ډېر تمرکز پیل کړ. د افغانستان اړوند نږدې ۲۰۰ د GoFundMe یا زما مالي ملاتړ وکړئ، کمپاینونه پیل شوي وو، خو یوازې ۱۴ یې د بهرمېشتو افغانانو د تنظیمونو د مالي ملاتړ له کمپاینونو سره ثبت وو.
- د دغې څېړنې د انلاین څارنې د پړاو په اوږدو کې، د ۲۶ جلا تنظیمونو د مالي ملاتړ ترلاسه کولو فعالیتونه ثبت شوي وو، چې تر نیمایي زیاتو یې د انلاین مجموعي مالي ملاتړ crowdfunding خدماتو څخه ګټه اخیسته.
- تر ټولو بریالیو کمپاینونو یوه پیاوړې تګلاره او پر دې تمرکز چې پیسې به چېرې مصرف شي، درلودل او همدا راز تعقیبي معلومات به د بهرمېشتو افغانانو د تنظیمونو له لوري چمتو شي.

**د ټولنې ښکېلتیا**

- د انلاین ښکېلتیا ۱۴ سلنه برخه د ټولنې د ښکېلتیا کمپاینونه وو.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو له خپلو ټولنو څخه، د بخشش شوو توکو د ترتیب، مظاهرو تنظیمولو، تازه مېشت شوو افرادو لپاره د طبي او ژباړې د خدماتو چمتو کولو او د نویو رارسېدلو افغانانو له هرکلي کوونکو ټولنو سره د یو ځای کېدلو په ګډون، د یو شمېر داوطلبانه فعالیتونو په برخه کې د ملاتړ غوښتنه کړې ده.
- له داوطلبانو څخه غوښتنه کېدله چې د ټیلیفون یوې شمېرې سره د اړیکې نیولو یا د یوې انلاین فورمې د ډکولو له لارې ونډه واخلي . د افغان بهرمېشتو تنظیمونو د ټولنې د ښکېلتیا او په حرکت راوستلو اړوند ځینې ښې او نوښتګرې طریقې هم شریکې کړې وې.
- د افغان بهرمېشتو تنظیمونه، د ټولنیزو رسنیو د افغان او غیر افغان اغېزمنو څېرو سره هم په اړیکه کې وې څو د پیغام رسولو په برخه کې مرسته وکړي، همدا راز له غیر افغان ټولنو او تنظیمونو څخه یې د هغو فعالیتونو ملاتړ غوښت چې د هغوی د ادغام د عمومي موخې او د ټولنې د متحرک کولو د تګلارې ملاتړ کوي.

**مستقیمه مرسته**

- په افغانستان کې وګړو ته پر چمتو شوو مستقیمو خدماتو متمرکز د فعالیتونو راپورونه، د نویو مېشت شوو افغانانو هرکلي او د پناه غوښتونکو او بسپنه ورکوونکو لپاره د معلوماتو چمتو کولو د غونډو برابرول، د ټولنیزو رسنیو د ښکېلتیا ۲۴ سلنه برخه جوړوله.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو له جدي ننګونو سره سره زرګونه زیانمنونکو افرادو ته مستقیمه مرسته چمتو کړې ده، سره له دې چې ډېرو تنظیمونو په افغانستان کې د چمتو شوو خدماتو اړوند د معلوماتو شریکول داسې ګڼل، چې له جګړې او بېځایه کېدنې څخه اغېزمن شوي وګړي او داوطلبان به په خطر کې واچوي. له دې امله یې په عامه توګه له خپرولو ډډه کړې ده.
- په افغانستان کې خپلو داوطلبانو او بانکي حسابونو ته د لاسرسي نه شتون، د خدماتو رسولو په برخه کې د هغوی وړتیا محدوده کړې ده. له دغو خنډونو سره سره، ډېرو بهرمېشتو تنظیمونو د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې خپلو خدماتو ته د دوام ورکولو لپاره بدیلې لارې چارې موندلې وې.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو، د خپلې اوسېدنې په هېوادونو کې د نویو ځای پر ځای شوو افغانانو د بیامېشتېدنې د اسانتیاوو په برخه کې کافي هڅې کړې دي.

DEMAC
DIASPORA EMERGENCY ACTION & COORDINATION

**مسؤولیت منل**

- دې ته په لیدو چې ډېر دیاسپورا تنظیمونه د غړیتوب د همکارۍ پر بنسټ مخ ته ځي، د بسپنه ورکوونکو او د هغوي د خدماتو ترلاسه کوونکو تر منځ د راپور ورکول ډېرى وختونه څرګند نه وي.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو هڅه وکړه چې د پوښتنو او ځواب ورکولو د غونډو د ترتیب او د تازه معلوماتو د خپرولو له لارې، چې ځینې وختونه د هغوي د فعالیتونو د موقعیت معلومات، انځورونه او ویډیو ورسره مل وي، د مسؤولیت منلو واټنونه له منځه یوسي.
- د هغو جنګ ځپلو یا بېځایه شوو وګړو د هویت او خوندیتوب اړوند، چې هغوي ورته خدمات چمتو کول، د افغان بهرمېشتو تنظیمونو له لارې د ترسره شوې پاملرنې اندازې هم له یو بل سره توپیر درلود.

**همغږي**

- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو هڅه وکړه چې له نورو ورته موخو درلودونکو تنظیمونو سره نوی اتحاد جوړ کړي.
- هغو تنظیمونو سره د همغږۍ اړیکې او غونډې لا منظمې او ډېرې شوې، چې لا دمخه یې په شریکبانۍ سره کار کوه. سره له دې، ټول تنظیمونه نه توانېدل چې دغه چاره پر مخ یوسي، ځینې یې د اتحادونو په فعال ساتلو کې له ستونزو سره مخ دي.
- د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونه د همغږۍ اړوند بېلا بېلې تجربې لري. کمزورې تاسیس شوي تنظیمونه ښايي د نورو ورته تنظیمونو په پرتله ستونزې ولري.
- د نویو اتحادیو جوړول ښايي د افغان بهرمېشتو تنظیمونو د غړو د فردي اړیکو له لارې رامنځته شي.

**سپاربښتنې**

- د ځاني ارزونې تنظیمي روزنه چمتو کړئ. د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونو تر منځ د دوه اړخیزه ګټورې ښکېلتیا تسهیلولو لپاره اړینه ده چې د غښتلتیاوو او اصلاح برخې په څرګند ډول وښودل شي.
- د څرګندو موخو درلودونکې غونډې برابرې کړئ. د هغو نویو تنظیمونو لپاره د شبکې جوړولو غونډې ډېرې مهال ارزښتمنې ثابتېږي، چې د ځان معرفي کولو او متحدینو موندلو په لټه کې وي.
- د اړونده بسپنه ورکوونکو په دخیلولو سره د اوسېدنې په هېوادونو کې د اتحادیو ملاتړ وکړئ. د سیمو یا نړیوالو هغو پر خلاف، د هېواد په کچه پر اتحادیو تمرکز کولو سره، د ځینو ننګونو او فرصتونو اړوند شریکه قرینه او عملیاتي فضا به د شریکې تجربې رامنځته کولو په برخه کې همکاري وکړي.
- د بریښنایي زده کړې لنډ او موخه درلودونکي کورسونه چمتو کړئ څو د هغوي انلاین پروفایل زیات شي. له وقف شوو یا د کور دننه سرچینو پرته د افغان بهرمېشتو/ دیاسپورا تنظیمونه هم له عمومي لارښودونو څخه ګټه اخیستلی شي.
- د DEMAC مهم اسناد پښتو/ فارسي ژبې ته وژباړئ. د اسنادو ژباړه ښايي د روزنې/ ټرېننګ تر موادو او د لنډیز راپورونو پورې محدوده وي.
- د مالي مدیریت جامع روزنه چمتو کړئ. د مناسب مالي مدیریت نه شتون، د غیرمنفعتي تنظیمونو په خطر کې اچولو یا له ناکامۍ سره د مخ کولو له مهمو فکتورونو څخه یو دی. د مسؤولیت منلو، د مالي خطر له منځه وړلو او د مالي ملاتړ د یوې څپې د مدیریت په څېر موضوعاتو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

USAID
FROM THE AMERICAN PEOPLE
DANISH REFUGEE COUNCIL
MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS OF DENMARK
*Danida*